


د مولانا سعيد افغاني : آزاده ، ټولنيزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!



مجيب الرحمن « خطيبي »

د نشر نيټه : 26 سپتمبر 2014 ميلادی

# د ميني يوه بيری وای

د ميني يوه بيری وای
کاش چې غم نه وای خوشحالی واي
يوه ته وای او بل زه وای
هستی وای، نيستی نه وای
همت وای ، سستی نه وای
خندا وای ، ژړا نه وای
وفا وای ، جفا نه وای
په شونډو کې، خندا خندا وای
په زړونو کې، غوغاغوغا وای
په زړونو کې، بس يو شور وای
په دا متو کې، بس يو زور وای
کاش چې غم نه وای خوشحالی وای
يوه ته وای او بل زه وای
دغره شنه لمن وای
ترڅنګ يې يوه ونه
او کيږدی وای
يوه بی پايه خمکه وای
دميني تخم مو شيندالی وای
بڼ او سنبل وای

هره ليکنه د ليکوال خپل نظر دی او خپله دليکوال اند څرګندوی
استفاده از مطالب سايت « ارګان نشراتی صلح و تفاهم مولانا سعيد افغانی » با ذکر مأخذ آن آزاد است

وني او بلبل واى
گل اوپتنګان واى
سپين چکي بوراګان واى
هره خوا د مرغيو چغار واى
کاش چي غم نه واى خوشحالى واى
يوه ته واى او بل زه واى
دميني يوه بيړى واى
د هيلو په سمندر کي
موجونو سره لاهو واى
شين صاف اسمان واى
ښه شني رڼي اوبه واى
د مرغانو په سينه لګيدا واى
د زانو لښکرپه ګډيدا واى
مخکي مي ناسته واى
زلفى دى ښوري واى
شپيلى سره باد واى
چي زړونه مو ښاد واى
د ميني يوه بيړى واى
او زه دى ملاح واى
کاش چي غم نه واى خوشحالى واى
يوه ته واى او بل زه واى

****

مجيب الرحمن « خطيبي »

5/2/1393

بازگشت به صفحه اصلی -www.said-afghani.org